# شریعت

ورځپانه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۱۶۲ ګڼه / چهارشنبه ۲۸ رمضان‌المبارک ۱٤٤٤ هـ.ق / ۳۰ حمل ۱٤۰۲ هـ.ش / ۱۹ اپریل ۲۰۲۳ میلادي


### سفیر جاپان:

## پیام تعامل با افغانستان را به کشورهای G۷ می‌رسانیم



شریعت: سفیر جاپان در دیدار با معاون اداری ریاست الوزراء گفت که «تلاش می‌نماییم تا در نشست کشورهای گروه هفت که در جاپان برگزار می شود، صدای خود را در زمینهٔ همکاری با افغانستان، تعامل و مساعدت در بخش‌های مختلف، بلند کنیم».

دفتر مطبوعاتی ریاست الوزرا روز گذشته با نشر خبرنامه‌یی از ملاقات مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزرا با تاکاشی اوکادا، سفیر جاپان در کابل، خبر داد. ص٥

## د نېکمرغه کوچني اختر په مناسبت د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د مبارکې پیغام!

د عالیقدر امیرالمؤمنین د اختر په مناسبت د پیغام په یوه برخه کې راغلي: د اسلامي امارت مسئولین او مجاهدین مکلف دي، چې د خپلو خلکو په خدمت کې لا ډېر اخلاص، هڅې او کوښښ وکړي، ځکه د خلکو خدمت عبادت دی، چې باید په ښه وجه ترسره شي او د هغوی شرعي حقوق او خوښې په نظر کې ونیول شي.

د افغانستان اسلامي امارت ځان د خپل ولس د ښېرازۍ او د خپلو خلکو د شرعي حقوقو په ورکړه مکلف بولي، دا کار د الله جل جلاله د رضا او د شرعي مکلفیت د ادا کولو لپاره کوي، نو باید ټول داډه وي چې د هر چا شرعي حقوق په احسنه وجه ورکول کېږي، د اسلامي امارت محاکم د همدې ستر هدف لپاره په مرکز، ولایاتو او ولسوالیو کې مقررې شوې دي چې د مظلومانو سره مرسته وکړي او د مظالمو مخه ونیسي تر څو عدالت تامین شي، ټول هېواد وال دې له محاکمو سره د عدالت په تامین کې همکاري وکړي، د سپارښتونو، جعلي او تزویري دعوو څخه دې په کلکه ډډه وکړي. ۲مخ

## کابل ښار کې درې لویې پروژې پلې کېږي



د ریاست الوز را اقتصادي معاونیت وایي، چې د اقتصادي کمېسیون د پرېکړې پر اساس د ۷۸۰ میلیونو افغانیو په ارزښت د کابل ښاروالۍ درې پروژې پلې کوي. له دغو پروژه یوه د کابل ښار نهمې ناحیې اړوند په درېیم مکرویانو کې د هستوګنیز او سوداګریز مرکز جوړولو پروژه ده چې پر ۱۶۳۰ متر مربع ځمکه د ۳۹۲ میلیون افغانیو په لګښت پلې کېږي د خبرپاڼې له مخې دویمه پروژه د کابل ښار لومړۍ ناحیې اړوند سیمه کې د افغانستان د وچې مېوې د نندارتون او بازارموندنې لپاره د معیاري مرکز جوړولو پروژه ده چې په ۲۱۴۲ متر مربع ځمکه کې... ٥مخ

## د عالیقدر امیرالمؤمنین د فرمان له مخې ۱۶۱ بندیان آزاد شول



شریعت: د زندانونو چارو د تنظیم اداره د اختر د رارسېدو په مناسبت د فراه او هرات له زندانونو د ۱۶۱ بندیانو د خوشې کېدو خبر ورکوي.

دغه اداري پرون د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویې ویل، چې د اختر په مناسبت د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله) لخوا د ... ٥مخ

## د زکات راټولولو لپاره یو ځانګړی بانکي حساب جوړ شو

د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د افغانستان او نړۍ له ګوټ – ګوټ څخه د زکات راټولولو لپاره د ځانګړي بانکي حساب د جوړولو خبر ورکړی دی.

دغه وزارت د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، چې د نړۍ او افغانستان مسلمانان کولای شي د یتیمانو، بې وزلو، کونډو او په نشه یي توکو د روږدو کسانو د ژوند د ښه والي په موخه خپل زکات د دوی له خوا جوړ شوي بانکي حساب ته ورکړي.

په خبرپاڼه کې ویل شوي، چې د عالیقدر امیرالمؤمنین د دفتر مالي رییس تر نظارت لاندې او د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت په چوکاټ کې... ٥مخ


## پکتیکا کې د ۴.۵ میلیونو افغانیو په لګښت د اوبو شبکه جوړه شوه

شریعت: د پکتیکا ولایت په ګیان ولسوالۍ کې د ۴.۵ میلیونو افغانیو په لګښت د څښاک اوبو یوه شبکه ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

د پکتیکا د کلیو، بیارغونې او پراختیا ریاست مسوولین وایي، چې دغه شبکه د ګیان ولسوالۍ په ګل امین کلي کې د یونیسف موسسې په مالي ملاتړ د ۴.۵ میلیونو افغانیو په لګښت جوړه شوې ده.

د مسوولینو په وینا، په دغه شبکه کې د ۳۶متره په ژوروالي د یوې څاه کیندل او د ۳۸ نل لیکو ٥مخ

## کابل کې د ۲۳ میلیونه افغانیو په لګښت د یو سړک جوړولو چارې پیل شوې



شریعت: کابل کې د دارالامان او ده دانا سیمو ترمنځ د غځېدلي سړک د جوړولو چارې پیل شوې.

د کابل ښاروالۍ د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، چې ښاري ترانسپورتي زېربناوو ته د ښاریانو د لاس رسي په موخه د کابل ښاروالۍ له لورې له ده دانا تر... ٥مخ

### والی کابل به مسوولان امنیتی:

## به مناسبت عید تدابیر امنیتی به گونه‌ی جدی اتخاذ گردد



شریعت: شیخ محمد قاسم خالد، والی کابل در دیدار با مسوولان امنیتی و ترافیک شهر کابل از آنان خواست تا در ایام عید به تأمین بهتر امنیت شهروندان کابل و حفظ نظم شهری، توجه (خاص) کنند.

دفتر رسانه‌یی ولایت کابل روز گذشته با نشرخبرنامه‌یی ص٥


بررسی حق پناهندگی دراسناد بین‌المللی صفحه۳

د قرآنکریم حقونه ٤ مخ

په دنده کې معاش خپل هدف مه ګرځوه! ٤ مخ


### سرمقاله

## د سودان کورنۍ جګړه – د ټول امت لپاره یوه نوې غمیزه!

د ډېرې خواشینۍ ځای دی چې د رمضان په دې بختوره مبارکه میاشت کې له تېرو څلورو ورځو راهیسې پرله پسې د سودان مرکز خرطوم کې د پوځ دوو ډلو ترمنځ د سختو جګړو راپورونه اورو. د خبرونو په حواله تر اوسه په دغو نښتو کې سل ګنه کسان وژل شوي او زرګونو ته د ټپیانو شمېر رسېدلی. خو عام ولس پرته له دې چې د خپل هېواد په دې لوی ښار کې د درنو اوسپکو وسلو زړه بوګنونکي غړونه واوري، فضا کې د الوتکو شور او د تخریباتو دوړې ګردونه ووینې او پرځمکه د مړو اوژبلو انسانانو جسدونه را واخلي، نور هیڅ نه شي کولی یقیناً د سودان مسلمان ولس ځکه په ډېرې مایوسۍ دا هر څه په خپله زغمي چې نه خپله د جګړه مارو خواؤ د لاس نیولو وس لري، نه له خپلو مغرضو ګاونډیانو د څه خیر تمه کولی شي او نه په دې لوی مسلمان امت کې داسې څوکویني چې هلته د روانې بدمرغۍ زر تر زره څه چاره وکړي. د افریقې په شمال ختیځ کې دغه پراخ مسلمان هېواد تر دې رومبی هم څو کاله همدغسې کورنۍ جګړې سره مخ شوی و، ترڅو بالآخره جنوبي څنډه یې چې خواشا لس میلیونه نصراني وګړي پکې اوسېدل، د جنوبي سودان په نامه (۲۰۱۱) میلادي کال کې جلا او خپلواکي یې د ملګرو ملتونو له خوا په رسمیت وپېژندل شوه. د سودان پاتې برخه هم پراخه ځمکه او ترڅلوېښت میلیونه زیات نفوس لري چې مرکزیې د خرطوم لوی ښار او تقریباً اته میلیونه وګړي پکې اوسي. دا وخت د نړۍ په لروبرکې د هر با احساسه او خوږمن مسلمان لپاره د افسوس ځای دادی چې له... ۲مخ

## ۴ ټانکره بې کیفیته ګاز بېرته ازبکستان ته مسترد شول



شریعت: د ستنډرډ ملي اداري ۴ ټانکره بې کیفیته ګاز بېرته ازبکستان هېواد ته مسترد کړ.

یادې اداري پرون د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره وویل، یاد ټانکرونه چې د دې اداري له ستنډرډونو سره یې مطابقت نه درلود، د آقینې بندر له لارې بېرته ازبکستان مسترد شول. ٥مخ

## غور کې ۳۵ قلمه تاریخي آثار موندل شوي دي



شریعت: د غور ولایت د منار جام په شاوخوا کې ۳۵ قلمه تاریخي آثار موندل شوي دي.

د غور د اطلاعاتو او کلتور ریاست مسوولین وایي، چې څه موده مخکې د اطلاعاتو او کلتور وزارت د لرغون پوهنې انجنیرانو له خوا د منار جام د استحکام چارې پیل شوې، چې د کیندلو ٥مخ

## زابل کې د لسګونو معتادو کسانو درملنه وشوه


شریعت: زابل ولایت کې په نشه یي توکو روږدي ۵۰ کسانو له درملنې وروسته له خپلو کورنیو سره یو ځای شول.

د زابل امنیې قومندانۍ مسوولین وایي، چې دغه کسان تر څلورو میاشتو درملنې وروسته خپلو کورنیو ته سپارل شوي دي.

د مسوولینو په وینا، له دوی څخه ژمنتیا اخیستل شوې، چې له دې وروسته به نشه یي توکي نه کاروي. ورته مهال روغ شوي کسان په خپله درملنه خوښ دي او د اسلامي امارت د دغه اقدام ستاینه کوي.

هېره دې نه وي، چې له دې وړاندې هم په دغه ولایت کې په نشه یي توکو د روږدو لسګونه کسانو درملنه شوې وه.

## له کابل ښار څخه سلګونه کیلوګرامه بې کیفیته توکي راټول شول



شریعت: د کابل ښار له بېلابېلو بازارونو څخه سلګونه کیلو ګرامه تاریخ تېر او بې کیفیته توکي راټول شول.

د کابل ښاروالۍ پرون د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویل: چې د ښاریانو روغتیا ته د پاملرنې په موخه د ۷مې ناحیې د مسئولینو له لوري له هټیو، لویو پلورنځیو او مال ګدامونو د څارنې په پایله کې... ٥مخ

# د نیکمرغه کوچني اختر په مناسبت

# د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د مبارکی پیغام!

**بسم الله الرحمن الرحیم**

الحمد لله نحمده ونستعینه ونستغفره ونتوب إلیه ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سیئات أعمالنا من یهده الله فلا مضل له ومن یضلل فلا هادي له وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شریك له وأشهد أن محمدا عبده ورسوله أما بعد:

فقد قال الله تعالی: يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ. [البقرة ۱۸۳]

ژباړه: ای هغو کسانو چې ایمان یې را وړی دی! په تاسو باندې روژه نیول فرض کړای شوې دي، لکه په هغو کسانو چې فرض کړای شوې وه کوم چې له تاسو څخه پخوا تیر شوي دي، شاید چې تاسو تقواداران شی.

قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ. [متفق علیه]

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کوم سړي چې له ایمان سره (یعني د شریعت ریښتیا ګڼلو سره او د رمضان د فرضیت د اعتقاد ساتلو سره) او د طلب ثواب له خاطره (یعني د ریا په طور نه بلکې خالصتاً لله تعالی) د رمضان روژه وساتله نو د هغه ګناه بخښل کیږي، چې هغه مخکې کړي وي. عن ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه قال: في آخر رمضان أخرجوا صدقة صومکم فرض رسول الله «ص» هذه الصدقة صاعاً من تمر او شعیر او نصف صاع من قمح علی کل حرٍ او مملوکٍ ذکرٍ او أنثی، صغیرٍ او کبیرٍ. [رواه ابوداؤد]

ژباړه: روایت دی چې ابن عباس رضي الله عنه د روژې په آخري ورځو کې خلکو ته وویل: چې تاسو د خپلو روژو زکات وکاږئ، (یعني صدقه فطر ادا کړئ) رسول الله صلی الله علیه وسلم دا صدقه پر هر مسلمان آزاد، غلام، مینځي، سړي، ښځي، او کوچنیانو باندې په خرما او وربشو کې یو صاع او په غنمو کې نیمه صاع فرض (یعني واجب) ګرځولې ده.

و عنه قال: فرض رسول الله صلی الله علیه وسلم زکاة الفطر طُهرةً للصائم من اللغو والرفث، وطعمةً للمساکین. [رواه ابوداؤد]

ژباړه: ابن عباس رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم روژې د بېهوده خبرو او د لغوه کلام څخه د پاکولو لپاره او په مسکینانو باندې د خوړلو لپاره صدقه فطر لازمه ګرځولې ده.

و قال الله تعالی: وَاذْكُرُوا إِذْ أَنتُمْ قَلِيلٌ مُّسْتَضْعَفُونَ فِي الْأَرْضِ تَخَافُونَ أَن يَتَخَطَّفَكُمُ النَّاسُ فَآوَاكُمْ وَأَيَّدَكُم بِنَصْرِهِ وَرَزَقَكُم مِّنَ الطَّيِّبَاتِ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ. [الانفال ۲۶]

ژباړه: او (ای مؤمنانو!) تاسو هغه وخت در په یاد کړئ چې تاسو په (عدد کښې) لږ وئ (او) په ځمکه کښې کمزوري وئ، (او) ویرېدلئ چې خلک به مو وتښتوي، (تالا ترغه به شئ) نو الله جل جلاله تاسو ته پناه ځای درکړ او په خپل نصرت سره یې تاسو تائید کړئ، (قوت یې در وباښه) او تاسو ته یې له پاکېزه شیانو څخه روزي درکړه او (د غنیمت مالونه یې درته حلال کړه)، شاید چې تاسو (په ذکر شوو نعمتونو باندې) شکر وکړئ (او د شریعت په منلو کې سستي ونه کړئ).

**۱ــ د افغانستان مجاهد او مؤمن ولس او د نړۍ ټولو مسلمانانو ته!**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!**

د نیکمرغه کوچني اختر د رارسېدو په مناسبت تاسو ټولو ته د زړه له کومې مبارکي وایم، الله تعالی دې د ټولو روژې، تراویح، سرسایې، جهادي خدمتونه، عبادتونه او دعاګانې پخپل عالي دربار کې قبولې کړي. ګرانو او محترمو وروڼو! موږ او تاسو ټول باید د الله جل جلاله ډېر شکر ادا کړو، چې وروسته له ډېرو ناخوالو د امن او اسلامي شرعي نظام څخه برخمن یو او د روژې د عظیمې فریضې تر ادا کولو وروسته په داسې شیبو کې اختر لمانځو چې په ټول هېواد کې د امن او کړارۍ فضا حاکمه ده. الحمدلله والمنة. ټول شتمن وروڼه دې د خپلو مسکینو او غریبو هېواد والو، یتیمانو، کونډو او د شهیدانو له کورنیو سره هر ډول مرسته او د هغوی لاس نیوی وکړي، خپلې فرضي او نفلي صدقې او خیراتونه په دې مبارکو شپو کې مستحقو خلکو ته ورکړي تر څو هغه خپل حاجتونه په پوره کړي او د اختر خوښۍ په ښه توګه ولمانځي او د شتمنو وروڼو د روژو د نواقصو جبیره وکړای شي.

۲ــ د اسلامي امارت مسئولین او مجاهدین مکلف دي، چې د خپلو خلکو په خدمت کې لا ډېر اخلاص، هڅې او کوښښ وکړي، ځکه د خلکو خدمت عبادت دی، چې باید په ښه وجه ترسره شي او د هغوی شرعي حقوق او خوښې په نظر کې ونیول شي.

د افغانستان اسلامي امارت ځان د خپل ولس د ښېرازۍ او د خپلو خلکو د شرعي حقوقو په ورکړه مکلف بولي، دا کار د الله جل جلاله د رضا او د شرعي مکلفیت د ادا کولو لپاره کوي، نو باید ټول ډاډه وي چې د هر چا شرعي حقوق په احسنه وجه ورکول کېږي، د اسلامي امارت محاکم د همدې ستر هدف لپاره په مرکز، ولایاتو او ولسوالیو کې مقررې شوې دي چې د مظلومانو سره مرسته وکړي او د مظالمو مخه ونیسي تر څو عدالت تامین شي، ټول هېواد وال دې له محاکمو سره د عدالت په تامین کې همکاري وکړي، د سپارښونو، جعلي او تزویري دعوو څخه دې په کلکه ډډه وکړي.

۳ــ څرنګه چې زموږ د جهاد او مبارزې مهم هدف اعلاء کلمة الله، د اسلامي شریعت تنفیذ، د ولس سوکالي او د ټولنې دیني او اخلاقي اصلاح وه، لله الحمد په دې برخه کې هم د پام وړ اقدامات ترسره شوي دي.

تر ټولو لوړه فریضه چې د امر بالمعروف اونهی عن المنکر فریضه ده، په عملي ډول سره جریان لري، ټول هېوادوال، مسئولین او غیر مسئولین دې د امر بالمعروف، نهي عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت او د دوی له کار کوونکو سره د معروفاتو په اقامه او د منکراتو په مخنیوي کې پوره همکاري وکړي.

په فرهنګ، تعلیم او تربیې، اقتصاد، رسنیو او نورو برخو کې د پام وړ اصلاحي اقدامات ترسره شوي دي او د ۲۰ کلن اشغال ناوړه فکري او اخلاقي اثرات په ختمېدو دي.

زموږ مؤمن هېوادوال باید دغه اصلاحي اقدامات تر هر څه مهم وبولي، ځکه د دیني اصولو او شریعت په رڼا کې ژوند زموږ دنیوي او اخروي سعادت تضمینوي او د ټولنې د تلپاتې نېکبختۍ، کامیابۍ او نجات سبب ګرځي.

دیني علماء کرام دې هم په دې برخه کې خپل مسئولیت ته پاملرنه وکړي، په ټول هېواد کې د خلکو په دین خبرولو، پوه کولو او د خلکو د اعمالو اصلاح ته د امربالمعروف، نهي عن المنکر، معارف، عالي تحصیلات او اطلاعات او فرهنګ وزارتونو سره په همکاري کار وکړي، هر ملت او هېواد هغه مهال د عزت او ریښتوني امن او سوکالۍ خوند څکلی شي چې د الله تعالی څخه بغاوت او سرکښي پکښې نه وي، نو د خلکو د اصلاح او په دین باندې د خبرولو دنده علماء کرامو ته سپارل شوې ده، هغوی باید په دې برخه کې لا هم خپل مکلفیت په احسنه وجه ادا کړي، په مساجدو، غونډو، رسنیو او پروګرامونو کې د خلکو د اصلاح او ذهني تنویر کوښښ وکړي او هغوی ته د نېک هدایت وسیله شي، همدارنګه په خپل منځ کې لا ډېره د هماهنګۍ او اعتماد فضا رامنځته کړي، له خپل منځي اختلافاتو څخه پرهېز وکړي او د دین او ولس علیا مصالحو ته پاملرنه وکړي.

۴ــ هېواد مو نوی له جګړو او ناخوالو راوتلی دی، رغونې او آبادۍ ته شدیده اړتیا لري، اوس نو ټول افغانان هغه که مسئولین دي او که غیر مسئولین دي؛ مکلفیت لرو چې خپل هېواد اباد او پخپلو پښو ودروو، د افغانستان آبادي د افغانانو خپل مسئولیت دی، باید نورو ته امید، ونه کړو؛ بلکې په خپل همت او خپلو هڅو دا هېواد اباد او د ژوند ټولې ممکنه آسانتیاوې هېوادوالوته برابرې کړو.

په دې اړوند د هېواد ملي تجاران او سرمایه داران تر نورو ډېر مکلفیت لري، اسلامي امارت له دوی سره پوره همکاري کوي، سهولتونه ورته آماده کوي، مرسته ورسره کوي او د ښه او معیاري خدمت زمینه ورته برابروي. ان شاءالله تعالی

۵ــ امنیت د الله جل جلاله ستر نعمت دی، راځئ د خپل هېواد د ثبات او امنیت ساتلو لپاره لا هم له خپل نظام سره کلک ودرېږو، ترڅو مو خلک او ولس نور ضرر ونه ویني او د نا امنیو قرباني نشي، اګر که په دې اړه به ځینې دښمنې کړۍ خپل شوم کوښښونه کوي چې زموږ هېواد نا امنه او د اسلامي امارت امنیتي ارګانونه کمزوري معرفي کړي، خو موږ باوري یو که د الله جل جلاله نصرت او د خپل ملت ملاتړ راسره و امن به لا ډېر ټینګیږي او خلک به مو لا ډېر هوسا کېږي. ان شاءالله تعالی

۶ــ افغانستان له ټولو همسایه هېوادونو، اسلامي هېوادونو او د ټولې نړۍ سره د اسلامي اصولو په چوکاټ کې ښې او په متقابل تعامل ولاړې مثبتې او مؤثرې اړیکې غواړي، لکه څرنګه چې افغانستان نه غواړي، د بل هڅ هېواد په کورنیو چارو کې لاس وهنه وکړي، همداسې ټینګار کوي چې نور هېوادونه هم زموږ په کورنیو مسائلو او چارو کې مداخله ونه لري، چې داسې کول هم د نړۍ او هم د افغانستان په ګټه دي.

۷ــ اسلامي امارت د اسلامي او شرعي مکلفیت له مخې په هېواد کې د مخدره موادو د کښت ممنوعیت او د هېوادوالو لخوا په دې اړوند د اسلامي امارت فرمان په ښه توګه تطبیقول خورا ستره لاسته راوړنه ده، د اسلامي امارت په عزم او تصمیم سره دغه ستر کار ترسره کېدل، له اسلامي امارت سره د خپل ولس کلک ملاتړ او حمایت څرګندوي او دا روښانه کوي چې نور افغانستان له مخدره موادو پاکېږي. ورسره په کابل او ولایاتو کې په مخدره موادو د معتادینو راټولېدل او د هغوی له معالجې وروسته په سالمه توګه کورنیو ته سپارل بل هغه شرعي مکلفیت دی چې اسلامي امارت تر سره کړی او د خپل ملت د یوې لویې برخې خلکو او کورنیو غم او درد ته رسیدګي شوې ده، چې په تېره شل کلنه دوره کې دغسې کار نه و ترسره شوی.

۸ــ د هېواد په مرکز او ولایاتو کې د سوالګرو راټولېدل، د هغوی سره مرسته او ستونزو ته یې ځان رسول د اسلامي امارت بل د ترحم او شفقت مهم اقدام و چې په ښه توګه ترسره شو او د بشپړ عملي کېدو په حال کې دی، چې په دغه ګام سره حرفوي (کسبي) او واقعي محتاج سوالګر سره جلا شول او له محتاج او اړمنو هېوادوالو سره د مرستې زمینه مساعده شوه او هغوی ته د حکومت له بودیجې څخه معین مقدار اعانه مقرره شوه، حرفوي سوالګر توصیه او تادیب شول چې دا د افغانستان په تاریخ کې لوی کار دی او له خپل ولس سره د اسلامي امارت بې سارې خواخوږي څرګندوي.

۹ــ د اقتصادي پرمختګ او پیاوړتیا لپاره د اسلامي امارت اړوند ارګانونه خپلې ټولې هڅې کوي، تر اوسه د الله جل جلاله په ستر فضل سره توانېدلي چې له پریمانه ستونزو او نړیوالو موانعو سره سره د هېواد اقتصاد په ښه توګه مدیریت کړي. د تېرکال بودیجه له خپلو ملي عوایدو څخه تنظیمول او بیا په ښه توګه مصرفول د الله جل جلاله لوی انعام دی، همدا ډول د روان کال لپاره د بودیجې په برخه کې د ښه اقداماتو د ترسره کېدو غوښتنه له الله جل جلاله څخه کوو.

۱۰ــ په تعلیمي برخه کې د تعلیم او تربیې بهیر ټول هېواد ته غځول او د ټولو بچیانو په ښه ډول روزل د اسلامي امارت له مکلفیتونو څخه دي چې د لا پرمختګ لپاره یې هم مؤثر پلانونه تر کار لاندې دي.

۱۱ــ د ولایتي مسئولینو د کارونو او حالاتو څارنه، په دیني او مذهبي امورو کې ولایتي ادارې ته په کتبي او شفاهي توګه نظر او مشوره ورکول، د امارتي مسئولینو چلند ته پاملرنه او نیمګړتیاوې یې په احسنه طریقه ورسره شریکول، د اسلامي امارت د مسئولینو او ولس تر منځ د باور او ښه تعلق فضاء جوړول او په همدې منظور په ټول هېواد کې د علماء کرامو او مخورو مشترکې شوراګانې جوړول او هغوی ته یوه ښه لایحه او کاري چوکاټ برابرول ډېر اړین ګام و چې ترسره شوی او امید لرو چې زموږ د مسئولینو ډېرې ستونزې به له همدې لارې په خورا ښه توګه، امانت دارۍ او غور سره بررسي او حل کېږي، چې په دې سره به د امن او داډ فضا لا ډېره پیاوړې شي او د مسئولینو سره به د هغوی د مسئولیتونو په ترسره کولو کې مرسته وشي. ان شاءالله

۱۲ــ د اسلامي امارت محاکم چې په ټولو ارګانونو کې ځانګړی حیثیت لري او د اسلامي نظام په چوکاټ کې هغه برخه ده چې د نورو ټولو برخو په نسبت یې کار مهم بلل کېږي، ځکه د اسلامي نظام عمده اهداف او مقاصد د الله تعالی د بنده ګانو د سر، مال، عقل، حیثیت او ټولو خدای ورکړو حقوقو ساتنه ده، په همدې منظور د محاکمو ټولو قضاتو او مسئولینو ته لارښوونه کېږي چې خپل درانه مسئولیت ته په کتو د خلکو د حقه حقوقو په تر لاسه کولو او د منازعاتو د حل په برخه کې له پخوا ډېر جدي او هڅاند و اوسي او په قضاوت کې د قوي او ضعیف تر منځ توپیر ونه کړي، له هر چا سره عدالت او مساوي چلند وکړي، د الله سبحانه و تعالی په حدودو کې د مجرم شخصیت ته نه ګوري، د مجرم پر ځای دې جرم ته وګوري، د مظلوم دفاع دې وکړي، د ظالم مخنیوی دې وکړي او د خلکو د قضیو په حل کې دې له ځنډ او خنډ څخه پرته د هغوی خدمت وکړي.

۱۳ــ د روغتیا وزارت مسئولینو ته لارښوونه کوو چې د روغتیا په برخه کې د خپل ملت خدمت ته شپه او ورځ ودرېږي، د روغتیایي مراکزو په تقویه او لا ډېر مؤثریت باندې کار وکړي، د معالجې او وقایې په اړه د خپل ملت مشکلاتو ته رسیدګي وکړي او په صحي برخه کې د هېواد د بسیا کیدنې په لور پیاوړي ګامونه واخلي.

۱۴ــ د اسلامي امارت ټول امنیتي او دفاعي ځواکونه د دې لپاره چې په ستره ازموینه کې بریالي شي، باید لاندې ټکي په ټینګه عملي کړي:

- نیتونه خالص لله في الله وګرځوئ!
- کشران دي که مشران، ځانونه د تقوی په زینت ښایسته کړئ!
- د الله تعالی حمد وواياست چې د مقدس جهاد په برکت مو د الله جل جلاله په نصرت سره عظیمه فتحه په برخه شوه.
- عدالت، احسان، تواضع او عاجزي کوئ، له کبر، غرور، عجب، ظلم، خیانت او بې ځایه مصارفو څخه ځانونه وساتئ!
- له قوم پرستۍ، منطقه پرستۍ، لسان پرستۍ او اندېوال پرستۍ څخه په کلکه پرهېز وکړئ!
- په اسلامي امارت کې امتیاز باید په تقوی او امانتدارۍ سره وي.
- په ذاتي (شخصي) تعلقاتو، د خپلوۍ او قرابت په تعلقاتو څوک په وظیفو کې مه مقرروئ! تقرر او وظیفه باید د اهلیت (تقوی، امانتدارۍ او استعداد) پر بناء وي.
- په خپلو منځونو کې د اعتماد او ورورولۍ فضاء قایمه کړئ، د حسد، شکایت او یو د بل غیبت کوولو څخه او همدارنګه د داسې حرکاتو څخه ځانونه وساتئ چې په خپل منځ کې بې اعتمادي رامنځته کوي.
- ټول مجاهدین وروڼه په خپل منځ کې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر فریضه مه پرېږدئ، په خپلو ریاستونو، ادارو او اطاقونو کې د تعلیم او تعلم او په ځانګړې توګه د لمونځونو د تعلیم سلسله جاري وساتئ، د لمونځونو ډېر اهتمام کوئ او لمونځونه په جماعت سره ادا کوئ!
- د شهیدانو د اولادونو او کورنیو ښه کفالت کوئ! هغه مجاهدین چې په شل کلن جهادي بهیر کې یې جهاد کړی او تکالیف یې ګاللي دی، د هغوی قدر او د هغوی د جهاد قدر وکړئ او هغوی دې د اسلامي امارت د صف څخه د باندې نه پرېښودل کېږي.
- د تصفیې کمېسیون چې د اسلامي امارت له خوا تاکل شوی دی، د هغوی سره په تصفیه کې ټول مجاهدین مرسته وکړئ! ترڅو دغه مقدس صف د نا اهله او مفسدو خلکو څخه پاک او تصفیه شي.
- د خپلو امراوو پوره اطاعت کوئ او د اسلامي امارت فرامین په کلکه عملي کړئ او دفاع یې کوئ!
- که هر څوک وغواړي چې کوم مشر ته نصیحت وکړي نو نصیحت دي په پټه ورته کوي، ځکه چې د پټې نصیحت مؤثر تمامیږي، په ښکاره نصیحت مه ورته کوئ، ځکه چې ښکاره نصیحت د مثبت اثر پر ځای منفي تاثیر کوي.
- د خپلو مصارفو د محاسبې ورکولو همت په ځان کې پیدا کړئ! رسول الله صلی الله علیه وسلم به د خپلو مالي مسئولینو سره چې د دوی په لاسونو کې به بیت المال جمعه کېدی، د هغوی سره دقیقه محاسبه کوله او عمر رضی الله عنه به هم د خپلو مالي مسئولینو سره محاسبه کوله، لهذا مالي محاسبه ضروري ده او تاسو کوښښ وکړئ چې مافوق او د محاسبې لپاره ټاکل شوو مسئولینو ته صحیح محاسبه ورکړئ!
- د دین او هېواد د دښمنانو، د امنیت تخریبوونکو، د غلو او جنایي مجرمینو په وړاندې جدي و اوسېږي خو د عام ولس سره د چلند په برخه کې ډېر نرم، محتاط او مهربانه واوسي، په بې ځایه تورونو او ناسمو معلوماتو څوک درنه زهیر نشي، د چا حیثیت او عزت پایمال نشي او د چا سر او مال ته په ناحقه سره زیان ونه رسیږي، دا ولس ترحم او شفقت ته ضرورت لري، موږ د دوی خادمان یو، د دوی امنیت مو دیني او هېوادنی مسئولیت دی، خو پام مو وي چې د امنیت او دفاع په عنوان د خپلو خلکو بې قدري رانه ونشي، او څوک مو د کړنو له امله الله تعالی ته شکایت ونه کړي.

په پای کې یادونه کوم چې د اختر په دې مبارکو شپو ورځو کې د شهیدانو د کورنیو، یتیمانو، کونډو او خپلوانو خاص خیال وساتئ او له بې وزلو سره خپله همدردي او مرسته ونه سپموئ. والسلام

**امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث مولوي هبة الله اخندزاده**
**۲۷ رمضان المبارک**

## د سودان کورنۍ جګړه - د ټول امت...

وې خوا هغه امت چې خالق او مالک خپلو کې سره وروڼه بللی او د توحید په سپیڅلې عقیده سره تړلي دی، تقریباً په شپېتو برخو وېشل شوي او له بلې خوا بیا تر وروستۍ کچې د اختلافاتو، شخړو او جګړو له بدمرغۍ سره مخ او هر هېوادیې یا په کور د ننه، یا خپلو ګاونډیانو او یا نورو یرغلګرو سره په لانجو کې ګیر دی. مطلب دا چې بې له شکه نن سبا ټول امت له خورا سخت انحطاط سره مخ دی. تر دې چې له یوې خوا یې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې پر مقدساتو او شعایرو تېری کیږي، له بلې خوا یې د بیت المقدس په څېر سپیڅلي مقامات د غلیم تر یرغل لاندې او بل لورته یې خپله همدغه کورنۍ جګړې دي چې د زرګونو انسانانو وینې پکې بهیږي. البته مسلمانان د خپل دین او عقیدې پر اساس باید کلک باوري وي چې د موجوده ذلت او بدمرغۍ یوازنی علت د خپل سپېڅلي دین له هغو مبارکو لارښوونو ناخبري او ناغیرې ده چې پرته له شکه په دنیا او آخرت کې د هر انسان لپاره د نېکمرغۍ، سوکالۍ، بریا او عزت ضمانت کوي. خو بیا هم د دې زمانې مسلمانانو شاوراړولي او ورځ تربلې یې د ذلت او بدبختۍ کچه لاپسې زیاتیږي. دا چې افغان مؤمن ملت خپله هم پر له پسې د نړۍ ځواکمنو یرغلګرو سره لس ګونه کاله په جګړه کې تېر کړي او دا وخت د نړۍ په خورا بې وزله خلکو کې حسابیږي، پر ته له دې چې د سودان مسلمانو ورونو پر حال خواشیني وکړي او له ښکېلو خواو د صبر، زغم او خپل منځي خبرو اترو غوښتنې او دعاګانې وکړي، نور هیڅ هم په وس کې نه لري. لکه چې د اسلامی امارت له خوا هم په دې اړه مستقله اعلامیه خپره شوې او په خرطوم کې د جګړې دواړو خواؤله مشرانو غوښتنه شوې چې خپل ټول اختلافات د جګړې پرځای د خبرو اترو له لارې حل او د سودان پر مسلمان ملت د روژې او اختر دغه مبارکې شپې ورځې نورې په غم او ویر بدلې نه کړي. ضمناً له دواړو خوا مو غوښتنه ده چې د افغانستان له حالاتو درس واخلي او هیڅکله پردیو ته د مداخلو چانس برابر نه کړي.

# بررسی حق پناهندگی دراسناد بین‌المللی

پوهیالی خارمن نجیب الله ارشد

**چکیده** : از آن جایی که به این مسأله پرداخته شد پناهنده گی یک موضوع حقوقی بوده ومطابق ماده های ١٤ اعلا میه جهانی حقوق بشروماده ١٢ اعلا میه حقوق بشراسلا می هرانسانی می تواند وحق دارد که درشرایط خاص به منظورحفظ حیات وآزادی شان به هرکشوری که می خواهد درخواست پناهنده گی بدهند. وهیچ نوع ممانعت دراین زمینه ازلحاظ حقوقی وسیاسی درمورد پناهنده گان وجود ندارد. بنابرآن درمورد حقوق پناهنده گان مسئله که مطرح می شود این است که داشتن هرحقی موجب یک سلسله تکالیف نیزمیشود. درصورتیکه پناهنده گان ازرعایت قواعد ومقررات به منظوربرخوردارشدن ازحق پناهنده گی سرپیچی نماید دراین صورت کشورپناه دهنده ( میزبان ) حق وصلاحیت این مسئله رادارا است که درخواست پناهنده گی شخص را مسترد وشخص پناهنده را ازکشورخویش اخراج نماید.

اصطلاحات کلیدی : پناهنده، کنوانسیون، سرزمین، قواعد، بین الملل.

**مقدمه:** پد یده مهاجرت ازدوران ها وگذشته های خیلی قدیم میان انسان ها وجوامع بشری وجود داشته وهرمملکت وجامعه بادرنظرداشت باورها، دیدگاه ها وفرهنگ خود راهکار واندیشه درمورد پناهنده گی داشته ودر عصر حاضر هم زنده گی اجتماعی حالت پیچیدی داشته فکر واندیشه حمایت وهمکاری با همنوعان در سطح بین المللی ارزش مهم واساسی پیدا کرده است. این فکر واندیشه در سطح تمام کشورها توجه وعلاقمندی افراد را نسبت به خود جلب کرده ودراین زمینه بمنظورحق پناهنده گی مهاجرین که بنابرمشکلات سیاسی، نظامی، اجتماعی، وفرهنگی تقاضای پناهنده گی را بخاطرحفظ جان ومال شان داده اند. بنآ بمنظورحق پناهنده گی وشرایط پذیرش مهاجرین به عنوان پناهنده یک سلسله قواعد واسناد بین اللملی وضع گردیده است تادرروشنای این قواعد واسناد به وضعیت اشخاص منحیث پناهنده رسیدگی لازم صورت گیرد.

گفتاراول : کلیات

جزاول : پناهنده گی درلغت : آنکه به کسی یا چیزی پناه ببرد.

پناهنده گی ازنظراجتماعی : کسی که بخاطررواج تعصب دینی یا اجتماعی یا نا امنی وجنگ درمیهنش به کشوری دیگری پناه ببرد.

پناهنده گی ازنظرسیاسی : کسی که بخاطرمبارزه سیاسی ومخالفت باحکومت کشورش به کشوری دیگری پناه می برد. پناهنده کسی است که به علت ترس موجه ازاینکه به علل مربوط به نژاد، مذهب، ملیت، یا عضویت دربرخی ازگروه های اجتماعی یاداشتن عقیده سیاسی تحت شکنجه قرارگیرد ویا به علت ترس مذکورنمی خواهد خودرا تحت تابعیت آن کشورقراردهد. یادرصورتیکه فاقد تابعیت است وپس ازچنین حوادثی درخارج ازکشورمحل سکونت دایمی خود بسرمیبرد نمی تواند یا به علت ترس مذکورنمی خواهد به آن کشوربازگردد. بادرنظرداشت تعریف فوق پناهنده کسی است که اولآ به دلیل ترس ازتعقیب ونیزنجات جان مال وآزادی خود به کشوری دیگری پناهنده میشود. دوم عنصراساسی درپناهنده گی ترس موجه ازتعقیب وآزاراست.

جزدوم : تفاوت میان پناهنده ومهاجر

بند اول پناهنده : پناهنده به شخصی گفته میشود که جان وحیات شان درخطر است وبخاطر ترس از آزار، اذیت، وشکنجه گروه های مخالف سیاسی بمنظور حفظ حیات وجان خویش ناگزیرهستند که تا دریک کشور امن پناه ببرند ومطابق اسناد بین المللی حق دارد هرکشوری درخواست پناهنده گی دهند.

بند دوم مهاجر : مهاجرعبارت ازشخص یا اشخاص است که بمنظور بهبود وضعیت زندگی، تجارت، زندگی مرفه، کسب تحصیل وغیره به یک کشوری سکونت اختیار مینماید درحالیکه هیچ نوع تهدیدی علیه جان، مال، دارای، حیثیت وآبروی شان مطرح نیست.

گفتاردوم

جزاول : بررسی حق پناهنده گی دراسناد بین المللی

مواد کنوانسیون و سایر اسناد بین المللی شامل افراد بسیاری که به دلیل اغتشاشات داخلی یا تجاوز کشور خارجی و نیز به دلیل عدم تامین امنیت جانی، مالی و حیثیتی به کشورهای همسایه خود پناهنده می شود.

سوالی که ممکن است مطرح شود این است که پس چه کسانی یا نهادهایی مسئولیت کمک رسانی به این پناهنده گان و ستمدیده گان را دارند.

ثانیاً بررسی اعلامیه حقوق بشر اسلامی مصر و همچنان باورها و ارزش های اسلامی ودینی این نکته را روشن میسازد که هر مظلوم که خواهان همکاری و پناه جویی باشد هر فرد مسلمانی بویژه دولت اسلامی موظف به پناه دهی و همکاری با او است همان گونه که پیشتر اشاره شد در ماده ١٢ اعلامیه حقوق بشر اسلامی آمده است که ( هر انسانی برطبق شریعت حق انتقال و انتخاب مکان برای اقامت در داخل یا خارج از کشور را دارد در صورت تحت ظلم قرار گرفتن می تواند به کشور دیگری پناهنده شود و بر آن کشور پناه دهنده واجب است که با او مدارا کند تا اینکه پناه گاهی برایش فراهم شود.

جزدوم : اساسی ترین حقوق پناهنده گان به اساس اعلامیه جهانی حقوق بشر

١ – بر خورداری از تمام حقوق و آزادی ها،
٢ – حق زندگی و امنیت شخصی،
٣ – منع هر گونه شکنجه و رفتار خلاف شئون بشری،
٤ – برابری همه افراد بشر در برابر قانون،
٥ – حق عبور و مرور و انتخاب آزادانه محل اقامت،
٦ – داشتن حق کار و حرفه، و
٧ – حق بهره مندی از آموزش و پرورش تا مرتبه عالی آن

**نتیجه گیری:** سازمان ملل و مجامع کشورهای مختلف قطعنامه ها، میثاق ها و اعلامیه های متعددی را در دفاع از حقوق پناهنده گان تصویب کرده اند که مورد پذیرش بسیاری از کشورهای جهان قرار گرفته است افرادیکه به دلایلی از سرزمین خود رانده یا مجبور به ترک آن می شود در اندیشه جهانی و نظام حقوق بین المللی از مزایا و حقوقی برخوردار اند بنابر این از جهت نظری و حقوقی مشکل آواره گان مورد توجه جامعه بین المللی قرار گرفته است اما حقوق و مقررات پناهنده گی به دلیل نداشتن پشتیبانه اجرایی از جهت عملی و اجرایی با مشکلات جدی روبرو است به گونه که کشورها با توجه به مصالح و منافع ملی خود با پناهنده گان برخورد نموده و گاهی مسایل حقوقی تحت تاثیر مسایل سیاسی قرارمی گیرد از اینرو پناهنده گان در بیشتر کشورها با سختی و دشواری های متعددی مواجه هستند.

پشنهادات

١ – تمام اشخاص که درخواست پناهنده گی میدهند باید دلایل موجه ومستند حین درخواست پناهنده گی باخود داشته باشد.

٢ – درخواست پناهنده گی صرفآ بخاطرنجات جان حیثیت وعقیده سیاسی شخص باشد نه منظوردیگر.

٣ – شخص پناهنده ناگزیراست باید تمام قوانین ومقررات کشورمیزبان را بدون قید وشرط رعایت کنند.

٤ – هیچ کشورپناه دهنده برخلاف کنوانسیون های بین المللی حق ندارد که بدون موجب درخواست پناهنده گی شخص را نادیده بگیرد ویا رد نماید.

٥ – کشورپناه دهنده مطابق اسناد بین المللی با پناهنده رفتارعملی نماید اما اکثرآ کشورها بنابرعوامل سیاسی، نظم عمومی وحفظ امنیت ملی شان با پناهنده گان رفتارسو مینماید بنآ به هرقیمت که میشود باید بخاطرحفظ جان وآ زادی پناهنده گان شرایط درخواست وپذیرش پناهنده گان را ساده وآسا ن وضع نماید.

٦ – تمام اشخاص منحیث پناهنده درهرکشورکه زیست وزندگی مینماید ازتمام حقوق وامتیازات ازقبیل حق آزادی، حق رفت وآمد وانتخاب محل اقامت، حق کاربادست مزد وسایرحقوق که درقواعد واسناد بین المللی تصریح گردیده است بصورت عملی برخوردارگردد.

منابع ومآخذ

١ . اعلامیه جهانی حقوق بشر، دهم دسامبرسال ١٩٤٨م
٢ . بیانیه جهانی حقوق انسان دراسلام ١٩ سپتامبر ١٩٨١م
٣ . کنوانسیون ژنووضعیت پناهنده گان سال ١٩٥١ م
٤ . لغت نامه معین
٥ . https:// LaiLyafganistan.com
٦ . https : // hawzah.net
٧ . http://.www.ensani.ir

# هکرها چه کسانی می‌باشند

تهیه و ترتیب کننده: پوهنیار ننگیالی فهیم

در بیشتر سازمانها با حملاتی از طرف افراد جوان شرور و شیطان مواجه می شوید و این ترس از همه مهم تر می باشد و نباید هرگز حریف تان را دست کم بگیرید سازمان های مختلف در معرض خطرات متفاوت می باشند. در واقع هکرها حرفه های متفاوتی دارند و انگیزه های بسیاری برای کار شان دارند بعضی از خطرات خارجی که ممکن است شامل حملات انترنتی شوند عبارتند از:

– رقابت : غالباً رقبای شرکت یا سازمان برای اینکه به موقعیت بهتری برسند سعی می نمایند به حملات کامپیوتری متوسل شوند این دستبردها می توانند شامل شناسایی، نفوذ عمیق تر به داخل سیستم های حساس برای دسترسی به جزئیاتی درمورد خط مشی های آینده یاحتی حملات پرحجم دیگر باشند که مشتریان دیگر نتوانند به شما دسترسی پیدا نمایند.

– کنجکاوی های هکرها: اگر سازمان یا شرکت شما موردی ندارد که از لحاظ سیاسی حساس باشد ممکن است هدف هکرهای کنجکاو قرار بگیرد این شکل از هکرها سعی می نمایند قفل ایمنی سیستم شما را بشکند تا کاری کنند که از نظر اجتماعی به صورت موضوع سیاسی جلوه نماید این نوع هکرها ممکن است دروب سایت شما تغییراتی ایجاد نمایند تا پیغام ها را مشاهده نمایند و از امکانات سازمان یا شرکت شما استفاده نمایند یا قابلیت پردازش سیستم را از کار بیاندازد و از فعالیت های تجارتی شما بکاهند.

– برنامه ریزی خرابکاری: اگر سازمان تان کار حسابداری و مالی انجام میدهد. (که بیشتر سازمان ها در یک تراز انجام می دهند ) زیرا ساختارمحاسباتی شما می تواند مورد هدف خرابکاری با برنامه ریزی باشد این هکرها ممکن است به دنبال طریقه مناسبی بگردند تا مبلغی را از روی سیستم پاک نمایند، اطلاعات مفیدی را بشنویند یا اهداف خرابکارانه دیگر را ترتیب دهند.

– تروریست : اگر سازماندهی از زیر ساختار اصلی کشور باشد با هکرها تروریستی مواجه می شوید که می توانند برنامه های خرابکارانه خود را طوری طرح ریزی نمایند تا کلیه سیستم های حیاتی را در زمان های حساس خاموش نمایند یا در غیر این صورت باعث مسایلی شوند که زندگی افراد را به مخاطره می اندازد.

– دولت ها: بیشتر دولت ها علاقمند فعالیت های می باشند که سلسله وسیعی از سازمان ها در آن زمینه کار می نمایند بعضی از آنها به سمت حملات اینترنتی برگشته اند تا در مورد سازمانها محلی اطلاعات کسب نمایند. یا به آنها دسترس پیدا کنند تا از اجرای قانون پشتیبانی نمایند و اطلاعاتی را بدست آورند که به شرکت های داخلی کمک می نمایند. با شرکت ها ی خارجی رقابت نمیاند و مخالفان خود را سرکوب نمایند.

– باجگیران: این نوع هکرها از راه دزدیدن اطلاعات یا راههای دسترسی به سیستم کامپیوتر از سازمان یا شرکت ها پول دریافت می نمایند و می توانند یکی دیگر از تهدیدهای خارجی باشند اکثر حملات از افرادی خودی ناشی می شود افرادی که بطور مستقیم به عنوان بخشی از کارشان یا رابطه تجاری به سیستم شما دسترسی دارند تهدید های که از طرف دشمنان خودی ناشی میشود عبارتند از:

– کارمندانی که نسبت به موضوعی دل سرد گشته اند: چون کارمندان سازمان یا شرکت بیشترین درجه دسترسی به سیستم سازمان یا شرکت دارند و بیشتر درمعرض تماس باآن می باشند غالباً براحتی می توانند به سیستم های کامپیوتری آسیب برسانند.

– مشتریان : متاسفانه مشتریان گاهی اوقات سیستم های شرکت های کامپیوتری را تغییرمی دهند و در تلاش برای کسب اطلاعات حساس و درمورد دیگر مشتریان به سیستم کامپیوتری آنها حمله می نمایند قیمت ها را تغییر داده یا از جهت دیگرداده های سازمان را کثیف می نمایند.

– عرضه کننده گان : عرضه کننده گان محصولات کامپیوتری گاهی اوقات به مشتریان حمله می نمایند کارمندی که رفتار غیر طبیعی دارد و بدجنس می باشد در شبکه آن شرکت می تواند به سیستم های شما و از طرق مختلف حمله نماید

– شرکای تجاری: دادوستدهای تجاری پرمخابره، طرحهای مشترک و دیگر روابطه تجاری غالباً شبکه های اتصالی را با یکدیگردر برمی گیرند و اطلاعات بسیار حساسی را به اشتراک می گذارند. هکرها که در یکی از شبکه های اتصالی واقع شده است می توانند حمله ای را بایکی دیگراز شرکای تجاری آغاز نماید غالباً شبیه زنجیری با ضعف ترین اتصال میباشد اگریکی از شرکای کاری تسلیم مهاجم خارجی شود و به خاطر اینکه موضع ایمنی ضعیف تری از شما دارند آن مهاجم میتواند از طرق ارتباط شریک تجاری به شبکه شما دسترسی پیدا نماید.

– قراردادی کارمندان موقت: با اطمینان می گویم که این نوع مهاجمان داخلی می توانند افراد خیانتکار به خصوصی باشند سازمان های بسیاری این کارمندان موقتی را مثل کارمندان دایمی خودشان کنترول می نمایند این کارگران موقتی غالباً بیشترین دسترسی را به سیستم ها و داده ها دارند مشکل پیچیده آن است که بعضی از سازمان ها نمی توانند دسترسی سریع خود را از کارگران موقتی خود حذف نمایند یا از طرقی که می توانند برای کارمندانی که قرار دادشان به پایان رسیده است صبح روز انفصال از شرکت بسته شده است درحالی که اشتراک موقتی نیز وجود داشته است که ماه ها بعد به پایان رسیده است .

البته، تهدیدهای ازین قبیل بطور انحصاری یک جانبه نمی باشند برای مثال، گروه های تروریستی می توانند افراد را در سازمان یا شرکت بصورت کارمند موقتی جای دهد، تا بداخل سیستم شما دسترسی پیدا نماید و نرم افزار خرابکاری خودشان را از داخل سیستم طرح ریزی نمایند علاوه براین رقیب تجاری یا کاری می توانند افراد جوانی خطا کار با مهارت های بالا را به عنوان باجگیر استخدام نماید تا اطلاعات خاصی را از سیستم سازمانی به سرقت ببرد تغییرات اساسی و ترکیبات بی نهایت می باشند.

این نوع تهدیدها را نه دست کم بگیرید و نه بیش از حد در مورد آنها حساسیت به خرچ دهید و لازم نیست سیستم ایمنی خود را طلایی سازید و آنرا در برابر صورت های خیالی محافظت نمایید که هیچ علاقه ای به کامپیوتر یا اطلاعات شما ندارند کسی نمی آید دستگیر قیمتی را روی موتر قسمتی آلت فلزی نسب نماید. البته دربرخی محلات، قطعاً زمانیکه دروازه گاراج موتر خود را قفل می نمایید تا کسی برای تفریح سوار موتر تان نشود و بلایی سرخود و موتر شما بیاورد. در ابتدا باید دید چه نوع تهدیدهایی سازمان یا شرکت شما را به مخاطره می اندازد. مقدار ملموس و غیر ملموس سرمایه و اموال که باید از آن محافظت نمایید را مورد محاسبه قرار دهید، وسپس کنترول های ایمنی متناسب با آن تهدید و متناسب با سیستم اطلاعات را مستقر سازید.

تکنالوژی معلوماتی به سرعت سرسام آوری در حال پیشرفت می باشد و وسائیل تکنالوژی معلوماتی از جملهٔ وسائیل معاونه برای رشته های علوم و فنون بوده و ارتباط ناگسستنی دارد بناءً زمانی تمام دست اندر کاران علوم و فنون از وظایف خود موفقانه بدر آمده می توانند که بنابر ضرورت تا اندازهٔ وسائیل تکنالوژی معلوماتی آشنائی داشته باشند و وسائیل تکنالوژی معلوماتی را به شکل فنی آن مورد استفاده قرار داده بتوانند. باید یاد آور شد که تکنالوژی معلوماتی به همان اندازه که مزایا، فواید و محاسن دارد برعکس اگر ارتباط تکنالوژی معلوماتی را فعالانه و عاقلانه مهار کرده نتوانیم با نواقص و معایب آن روبرو خواهیم شد و بر علاوه اسرار وظیفوی ما حفظ نگردیده و با مشکلات جدی روبه روبرو خواهیم شد. و دشمنان ما و یا افراد شرور و نوجوانان و جوانان ناصالح ارتباط ما را به بازی خواهد گرفت. بناءً باید حریف ارتباطی یا انترنتی خود را دست کم نگیریم و به شکل فنی آنها را اصلاح، مغلوب و یا از مزاحمت و ضرر رسانیدن منصرف بسازیم.

منبع و مؤخذ:

١– هک و ضد هک.
٢– تجارب و معلومات استادان دیپارتمنت.

## شعر و ادب

### غزل

**حضرت عبدالقادر گیلانی (رح)**

چون تمام عمر نیکی کرد با تو آن کریم
از بدی خود چرا ترسی تو آخر ای لئیم
تو یتیمی با تو او هرگز نخواهد کرد قهر
زانکه او خود کرد نهی قهر کردن با یتیم
هرچه میخواهی تو ازوی میدهد بیشک تورا
دست خالی کی رود سائل ز درگاه کریم
حق تعالی قادرست کو همچوموئی از خمیر
خلق عاصی را برآرد از نار جهیم
لطف او بی شک برابر می بود با نیک و بد
راست می ماند بدان سیبی که سازندش دو نیم
آن که رحمن و رحیم است دوست میدارد ترا
پس چه باک از دشمن دیگر ز شیطان رجیم
او به سوی تخت میخواباندت در گور تنگ
میوزاند مر ترا از روضه رضوان نسیم
دربهشت خلد زرّین خشت دادت در بها
پس خرید از تو پشیز قلب دائم ترس و بیم
چون زبان قال گردد در سئوال گور لال
داردت ثابت قدم فی الحال بر عهد قدیم
دوستیها کرد با تو از ازل تا این زمان
درمقام دوستی او نمی باشی مقیم
نعمت بسیار خواهد داد در عمر ابد
تا به نعمت ها کند محیی به جنّات النّعیم

### غزل

**حضرت سنایی (رح)**

خیز تا دامن ز چرخ هفتمین برتر کشیم
هفت کشور را به دور ساغری اندر کشیم
هفت گردون مختصر باشد به پیش مرد عشق
شاید ار دامن ز کون مختصر برتر کشیم
نفس ما خصمی عظیم اندر نهاد راه ماست
غزو اکبر باشد ار در روی او خنجر کشیم
پای ما در دام عشق خوبرویان بسته شد
زین قبل درد و بلای عاشقی بر سر کشیم
قصر قیصروان کسری گر نباشد گو مباش
ما به مردی حلقه در گوش دو صد قیصر کشیم
گر نشیند گرد کوی دوست بر رخسار ما
خط عزل از جان و دل بر مشک و بر عنبر کشیم
این همه تر دامنان را خشک بادا دست و پا
خیز تا خط فنا گرد سنایی برکشیم
در کلاه او اگر پشمی‌ست آتش در زنیم
عقل و هوش خویشتن یک دم به مستی در کشیم

### حکایت

**حضرت سعدی (رح)**

پادشاهی به کشتن بیگناهی فرمان داد. گفت: ای ملک به موجب خشمی که تو را بر من است آزار خود مجوی که این عقوبت بر من به یک نفس به سر آید و بزه آن بر تو جاوید بماند.

دوران بقا چو باد صحرا بگذشت
تلخی و خوشی و زشت و زیبا بگذشت
پنداشت ستمگر که جفا بر ما کرد
در گردن او بماند و بر ما بگذشت

ملک را نصیحت او سودمند آمد و از سر خون او در گذشت.




# د قرآنکریم حقونه

**قاري احمدالله**

قرآنکریم، د الله تعالی له لوري د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په واسطه مسلمانانو ته رالیږل شوی، تر اوسه هم زموږ ډېری مسلمان ولس پر دې نه پوهیږي، چې قرآنکریم څه حقونه لري او باید په کومه طریقه تعامل ورسره وشي. زموږ ډېری ولس اوس هم یوازې دا فکر کوي، چې قرآنکریم، د مړي پر سر، فاتحو او د جمعې شپې ختم لپاره کارول کیږي او د عمل لپاره یې اوس هم څوک فکر نه کوي.

سره له دې، چې اوس هم له خپلو خلکو اورو، چې د قران لار مو نصیب کړې، مګر بیا هم فکر نه کوو، چې قرآنکریم د څه لپاره راغلی او پر موږ څه حقونه لري؟

علما کرام فرمایي، د قرآنکریم اول حق پر دې کتاب ایمان راوړل دي.

په قرآنکریم ایمان دا معنا، چې الله تعالی په دې کتاب کې کوم امرونه او نواهي رالیږلي، مسلمان باید عمل پرې وکړي له بدیو منعه او د ښه والي کار وکړي. د خپل ژوند ټول کارونه د قران له حکم سره سم ترسره کړي او په هره مسئله کې باید د مسلمان فیصله کوونکی د الله تعالی کتاب وي. د دوستۍ او دښمنۍ معیار مو باید د الله تعالی کتاب وي. له زوکړې نیولې، تر مرګه باید مسلمان خپلې ټولې لارښوونې د الله تعالی له رالیږل شوي کتابه واخلي او دا په هغه صورت کې ممکن ده، چې پر دغه کتاب یې کامل ایمان راوړی وي.

د قران دویم حق تلاوت دی.

له نوې رنا ځینې متاثر یاران فکر کوي، چې څوک د قرآنکریم په معنا نه پوهیږي، نو یوازې لوست یې هېڅ ګټه نه لري، مګر دا خلک د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم حدیث مبارک ته نه ګوري.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: " اقرؤوا القرآن فإنه يأتي يوم القيامة شفيعاً لأصحابه "رواه مسلم

یو بل حدیث چې له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روایت دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: { من قرأ حرفا من كتاب الله فله حسنة والحسنة بعشر أمثالها ، لا أقول الم حرف ، ولكن ألف حرف ، ولام حرف ، وميم حرف } . رواه الترمذي .

چا چې د قرآنکریم یو حرف ولوست، نو الله تعالی به یوه نیکي ورکوي او یوه نیکي د لسو نیکیو په اندازه ده، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي، چې زه نه وایم، چې الم یو حرف دی، بلکې الف یو حرف دی، لام بل حرف دی او میم بل.

علماء کرام دا هم وایي، چې که د قرآنکریم له معنا پرته د لوستو اجر او ثواب نه وای، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم خو دې حدیث کې د الم داسې مثال ویلی، چې څوک یې په معنا هم نه پوهیږي، نو له دې معلومیږي، چې له معنا پرته هم د قران لوستل ثواب لري.

خو تلاوت هم باید د قران له امر سره سم وي. الله تعالی خپل پیغمبر علیه السلام ته فرمایي: {ورتل القرآن ترتيلاً} قرآنکریم باید په ترتیل سره تلاوت شي او هر حرف یې د تجوید له قواعدو سره سم ادا شي. الله تعالی د هغو مومنانو صفت کوي، چې د قرآنکریم د تلاوت حق ادا کوي. {الذين آتيناهم الكتاب يتلونه حق تلاوته أولئك يؤمنون به} [البقرة: ۱۲۱

د قرآنکریم دریم حق د دې کتاب حفظ دی.

علما فرمایي، د دې پورته یادوو شوو صفاتو تر ټولو ښه مصداق د قرآنکریم حافظ دی، ځکه چې څوک دا کتاب یاد کړي او په خپله سینه کې یې محفوظ کړي، نو دی کولای شي، چې هر وخت یې هر ځای ځان سره تلاوت کړي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي، چې د قران حافظ ته به وویل شي، چې قرآنکریم په ترتیل لوله لکه څنګه دې چې په دنیا کې لوست، پورته خیژه او ستا اخري منزل د قرآنکریم اخري ایت دی، چې هر وخت دې سر ته ورساو، نو هغه ستا ځای دی.

نو اوس که مسلمان ځان سره فکر وکړي، چې دی د جنت کوم مقام غواړي، نو ځواب یې باید د خواهشاتو پر ځای په عمل کې ورکړي، چې د څومره قرآنکریم د حفظ هوډ لري، نو اجر او ثواب به یې هم دومره وي.

یادونه: مسلمان پر دې نه دی مکلف، چې ټول قران یاد کړي، بس هر مسلمان باید د قرآنکریم دومره برخه یاده وي، چې خپل لمونځ کې یې تلاوت کړي او کله چې ناروغ وي، د شفا لپاره یې پر ځان ولولي. صحابه کرامو هم ټول د قرآنکریم حافظان نه و، بلکې هر صحابي د خپل توان سره سم د قران کریم ځینې برخې یادې کړې وې.

د قرآنکریم څلورم حق دا دی، چې مسلمان یې باید په معنا ځان پوه کړي.

یوه ورځ یو داعي عالم زموږ سیمې ته راغلی و، چې د قرآنکریم تلاوت یې وکړ، نو غږ یې وکړ، چې د ترجمې اړتیا به یې نه وي؟ نو خلکو وویل، چې په ترجمه یې نه پوهیږو، نو دې عالم وویل، چې قرآنکریم د الله تعالی له لوري موږ ته رالیږل شوی او تر اوسه موږ دا مشکل نه دی حس کړی، چې ولې مو د الله تعالی په کلام ځان نه دی پوه کړی او نه راته ځان مقصر ښکاري. له هغې ورځې زه هم دې ته حیران یم، چې د اړتیا پر مهال مو ځوانان او زاړه د نړۍ هره ژبه زده کوي او هڅه کوي، چې په ښه لهجه یې ووایي، مګر د قرآنکریم لوست او په معنا د ځان پوهولو لپاره هېڅ خواري نه کوو او نه راته پر دې خبره ځان مقصر ښکاري.

پنځم حق یې دا دی، چې مسلمان باید پر قرآنکریم عمل وکړي.

د قرآنکریم د نزول حکمت او هدف پر دې کتاب عمل کول دي او دا نور حقونه دې سره تړلي دي. پخوانیو علماوو به چې قرآنکریم لوست، نو ځان سره به یې دا ویل، له کومو خبرو ځان وساتي او پر کومو یې عمل وکړي. ابن مسعود رضي الله عنه فرمایي: «کله دې، چې د الله تعالی دا قول واورېده 'یاایها الذین امنوا' نو پوه شه، چې یا درته د خیر امر کوي او یا دې له شره منعه کوي.» د صحابه کرامو په وخت کې به چې کوم ایت نازل شو، نو صحابه وو به سمدستي په ډېره خوښۍ عمل پرې کاوو.

یادونه: پر قرآنکریم عمل دا معنا، چې امرونه یې ومنو او له نواهیو یې ځان وژغورو. چا چې د قران له نواهیو ځان نه وي ژغورلی نو هغه عمل پرې نه دی کړی.

پر قرآنکریم عمل کول د ژوند ټولو چارو ته شامل دي. قرآنکریم د عقیدې اصلاح کوي او له قرآنکریم پرته بله عقیده اسلامي عقیده نه ده او ژوند په هره چاره کې چې کوم کار له قرآنکریمه سرچینه نه اخلي، دا کار د قرآنکریم خلاف دی. په لنډه توګه ویلای شو، چې قرآنکریم د عقیدې او عمل لارښوونه کوي او څوک چې خپله عقیده او عمل د قران په رڼا کې نه سموي، هغه د قران پر لار نه دی روان.

شپږم: پر قرآنکریم پرېکړه او فیصله کول:

د قرآنکریم یو مهم حق دا دی، چې مسلمان حاکم باید خپلې پرېکړې د قران کریم له مخې وکړي.

علماء فرمایي، که مسلمانان قرآنکریم په خپل ژوند کې عملي کړي، نو حاکم او پاچا ته ډېر کم شیان پاتې کیږي، چې هغه یې د قانون په توګه عملي کړي.

بل پلو سړی د مسلمانو حاکمانو ته هم حیران شي، چې یو طرفته پر قرآنکریم د ایمان اقرار کوي، بل پلو د قران پر ځای د نړۍ پر وضعي قوانینو پرېکړې کوي او د قران پر ځان په نورو قرانینو کې عدل لټوي.

الله تعالی فرمایي: أفحكم الجاهلية يبغون ومن أحسن من الله حكماً لقوم يوقنون} [المائدة: ۵۰].

د قرآنکریم بل حق دا کتاب خلکو ته رسول دي.

مسلمانان د الله تعالی له لوري پر دې مکلف دي، چې دا کتاب نورو قومونو ته ورسوي او اسلام د هغه چا لپاره د دنیا او اخرت د اجرونو وعده کړې، چې قرآنکریم خلکو ته رسوي او په خپله هم عمل پرې کوي.

او اخري حق یې دا دی، چې څوک د قرآنکریم د خپرېدو او قانون په توګه مخالفت کوي، د هغې لپاره باید مسلمان قرباني ورکړي. په ژبه او چې په ژبه نه کیږي، نو باید خپل ځان هم مرګ ته تیار کړي او هغه څوک هم ووژني، چې د قراني نظام مخالفت کوي او د خپرېدو یې مخالف وي.

# په دنده کې معاش خپل هدف مه ګرځوه!

**مولوي نورالحق مظهري**

دا حقیقت دی چې معاش د انسان اړتیا او ضرورت دی او ښیله معاشه کار هم نشي کېدای، خو په دنده کې معاش د ځان هدف او مقصود مه ګرځوه، بلکې هدف د الله تعالی رضایت او د خپلو خلکو او نظام خدمت وګرځوه تر څو دې الله تعالی په کار کې برکت واچوي او په آرام زړه خپل کار هم پر مخ بوزې.

دا په تجربه ثابته شوې چې د معاش لپاره وظیفه کول د دې تر څنګ چې برکت به ونه لري انسان به په دنده کې له بریالیتوبه هم محروم وي او له یو ډول غفلت او تنبلۍ سره به مخامخ کېږي ځکه د ده ټول فکر به د معاش لپاره وي چې څنګه یې ډېر کړي او یا یې څنګه ثابت وساتي؟ چې طبعاً په داسې حالاتو کې د کار معنویات او په کار کې للهیت له منځه ځي او د مادیاتو په محبت کې انسان غوټه کېږي.

د مادیاتو په محبت کې غوټه کېدل په هر مسئولیت کې د انسان د ناکامۍ لپاره لوی سبب دی ځکه د همدغه محبت له امله انسان رشوت اخلي، په هر ډول چې وي د خپل معاش ډېرولو هڅې او کوښښونه کوي، د زیاتو پیسو لاس ته راوړلو لپاره فساد او درغلۍ ته مخه کوي آن تر دې چې په خپل ټاکل شوي معاش قناعت نه کوي ځکه نو ممکن د خپلې رسمي دندې سره سره بله وظیفه هم وکړي او یا هم د خپلې وظیفې له محدودیته بهر د امتیازاتو لپاره کوښښ وکړي چې په نتیجه کې په خپله رسمي وظیفه کې له غفلت او ناکامۍ سره مخامخ کېږي.

د مسلمان لپاره په هر کار کې د نیت اخلاص ډېر مهم دی، که په مباح کار کې مسلمان خپل نیت سم کړي ارومرو به الله تعالی پر هغه ثواب ورکوي له همدې امله زبید یامي رحمه الله فرمایي: زه خوښ لرم چې په هر شي کې نیت ولرم، آن تر دې چې د ډوډۍ په خوړلو او اوبو څښلو کې هم نیت ولرم.

وعن زُبَيدٍ اليامي، قال: إنِّي لأحبُّ أن تكونَ لي نيَّةٌ في كلِّ شيءٍ، حتى في الطَّعام والشَّراب.[جامع العلوم والحكم]

دا معلومه خبره ده چې په نظام کې وظیفه کول د هیواد، نظام او خلکو په خیر تمامېږي نو که څوک خپل نیت د الله د رضامندۍ لپاره سم کړي نو الله تعالی به یې ارو مرو په دنده کې مرسته کوي او په دنده کې به برکت او بریالیتوب هم ورته نصیب شي، نو ښه خبره دا ده چې انسان په ښه نیت خدمت وکړي.

# د بغلان او سمنگان تخنيکي ټيمونو د دې ولايتونو د حد بخشۍ گډه کرښه په نښه کړه

د بغـلان د کرنې، مالـداري او اوبولگولو ریاسـت مسـوولین وایـي، چې د سـمنگان ولایـت د ځایي مسوولینو سره یې په گډه د دوارو ولایتونو ترمنځ د حد بخشۍ کرښــې چې مالدارانو ته یې د مالچر په برخه کې ستونزې جوړې کړې وې معلومې کړې دي.
د دغه ولایت د کرنې، مالدارۍ او اوبو لگولو ریاست د معلوماتــو د برخې مســوول ولي امرخېــل د باختر آژانس ســیمه ییز خبریــال ته وویل، چــې څه موده وړاندې د بغــلان په خواجه الوان ســیمه کې د ځایي مالدارانو په غوښــتنه کرنې ریاســت ځړ ځای په نښه کړ، خو وروســته د ځړ ځای تر نښه کېدو د سمنگان د رباطک د ســیمې اوسېدونکي د بغلان د خواجه آلوان ســیمې مالدارانو ته د څرځای په اړه ســتونزې جوړې کړې، چې تېره ورځ رســماً د بغلان د کرنې ریاســت مســوولینو د یوه تخنیکي ټیم پــه ملتیا په خواجه الوان دښته کې د سمنگان د کرنې ریاست او مل پلاوي سره یاده ســتونزه حل او د دوارو ولایتونو ترمنځ یې د حد بخشۍ کرښه په نښه کړه.
امرخېل زیاته کړه، چې د مسوولینو او تخنیکي ټیمونو تر سروې وروســته معلومه شــوه چې د سمنگان ځړ ځای ۵۰ متره د بغلان خاورې ته راتېر شــوی و، چې تر معلومېدو ورســته یې د حدبخشۍ اصلي کرښه په نښــه او د دوارو ولایتونو د مالدارانو ترمنځ شته ستونزه د تل لپاره حل شوه.

## خلک د برېښنايي پېژندپاڼې د بيې...

تذکــرو د بیې د لوړېدو یو لامل د عملیاتي لگښــتونو دېرېدل گڼي. د احصایــې او معلوماتو د ملي ادارې د شــمېرو له مخې، په ورځ کې لــه ۱۴ زرو تر ۱۵ زرو پورې برېښــنایي تذکرې وېشــل کېږي او د اســلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته ۳٫۸ مېلیونه هېوادوالو ته تذکرې ورکړل شوې دي.

## آغاز روند توزيع کتب جديد براى دانش...

این‌ریاســت ارســال شــود که از جمله یکصد هزار و یکصدو هشــتادو سه جلد آن به این ریاست منتقل شده است. بــا توزیــع ایــن کتاب‌هــا مشــکل کمبــود کتــاب درســی در پنجشــیر تــا انــدازه یــی زیــادی رفــع خواهد شد.

## په هېواد کې د ملي مسکن سروې...

جوړولو وزارت د ښــاري چارو معین شــیخ مدار علي کریمــي بامیاني، وویــل چې دغــه وزارت په ۱۴۰۱ مالي کال کــې د ۱۴ ولایتونو لپاره ۱۷ ښــاري پلانونه جوړ کړي او پلازمینې او ولایتونو ته یې ۲۰۰ ښــاري پلانونه استولي دي.
د غونډې په وروســتۍ برخه کې د کور او ښار جوړولو وزارت د کور د ســاختماني چارو او د زونونو د پراختیا معیــن مولــوي روح الله احمدي، د یــاد وزارت مهم فعالیتونو او لاسته راوړنې شــریکې کړې او ویې ویل: په ۱۴۰۱ مالي کال کې د کور او ښار جوړولو وزارت ته ۴۷ میلیونه افغانۍ هدف ټاکل شــوی و، خو موږ ۵۳۰ میلیونــه افغانــۍ عواید راټول کړل چې دغــه عواید له ټاکلي هدف څخه شاوخوا ۱۱ برابره زیات دي.
احمدي زیاته کړه چې پــه ۱۴۰۱ مالي کال کې د کور او ښار جوړولو وزارت ته، ۶۹۹ میلیونه او ۲۹۹ زره او ۲۱۴ افغانۍ بودجه ځانگړې شوې وه، چې دغه وزارت وکولای شو ۷۱ سلنه یې مصرف کړي.
د یادونــې وړ ده چــې د ۳۷ تفصیلي، ســیمه ییزو او اصلاحي پلانونو جوړول، د ښــاري پلانونو بیا کتنه، د کابل جدید په مربوطاتــو کې د ځمکو تصفیې د چارو دوام، د هېواد په کچه د مسکن ملي سروې ترسره کول، په دولســو ولایتونو کې د ســروې او د توپوگرافۍ پلان برابرول، د ۱۲۹ ټولگټو پروژو د مهندســۍ نقشو طرحه کــول، د کلتوري او تاریخي آبداتو بیارغونه او ترمیم او په اړه یې د یوه ملي سمپوزیم برابرول او دغه راز د کور او ښــار جوړولو وزارت د ستراتیژیک پلان جوړول، په روان کال کــې د دغه وزارت له اساســي پلانونو څخه دي.

## د کوچني اختر د رخصتۍ په تړاو د کار...

په مکتوب کې ویل شوي، چې د روژې مبارکې میاشتې له پای ته رســېدو وروسته د شمســي کال په لومړیو ۶ میاشــتو کې د کارکوونکو کاري مهــال وېش په لاندې ډول تنظیم شوی دی:
له شــنبې څخه تر چهار شــنبې پورې د کار پیل سهار ۸ بجــې او د کار پــای د مازدیگر ۴ بجې او د غرمې له ۱ څخه تــر ۲ بجو پورې د ماسپښــین لمونځ او غرمې ډوډۍ وقفې په پام کې نیولو سره.
همدارنگه د پنجشــنبې په ورځو کې د کار پیل سهار ۸ بجــې او د کار پای ماسپښــین ۱ بجه بې له وقفې څخه اټکل شوی دی.

## سالنگ کې ۴۵ سانتي متره واوره...

دوارو لــورو او بــار وړونکي موټر لــه جنوب څخه شمال لورې ته تک کولای شي.
خبرپاڼه کې راغلي، چې د ټولگټو وزارت د ســالنگونو د ساتنې او څارنې ریاست پرســونل د معمول په څېر د یــادې لویې لارې د ځینو ویجــاړو برخو په ترمیم، جغل اچونه او پاک کارۍ بوخت دي.
همدارنگه، د گواره ســنگ، هفته نور او سنگ نوشته په ساحو کې شاوخوا ۴۵ ســانتي متره واوره اورېدلې او لا هم دوام لري، چې د ســالنگونو د ساتنې او څارنې ریاســت پرســونل له لورې یې د پــاک کارۍ چارې روانې دي.

## بازداشت ۱۶ تن در پيوند به جرايم...

نمودند.
طبق یک خبر دیگر، یک تــن در پیوند به قاچاق ســلاح از ســوی مجاهدین وزارت دفاع ملی در ولایت کاپیسا گرفتار شد.
وزارت دفاع ملی روز گذشته با نشر تویتی گفت: این شخص از مربوطات ولسوالی اله سای کاپیسا بازداشت شده است.
از نزد فرد گرفتار شده دو میل سلاح ام شازده، ده فیر مرمــی راکت انداز، چهار صندوق مرمی پیکا، چهار نارنجک، شــانزده عدد شاجور ام شانزده به دست آمده است.
همچنان منابع پولیس بغــلان می‌گویند که چهار تن به اتهام زنا و روابط نامشــروع در این ولایت بازداشت شدند. این افراد در دو اقدام جدا گانه از شهر پلخمری و مرکز بغلان بازداشت شده است.
به همیــن ترتیب، دو تن در هلمنــد در پیوند به ربودن و قتل یک کودک از سوی موظفین ریاست استخبارات آن ولایت گرفتار شدند.
ریاســت عمومی اســتخبارات روز گذشته با نشر تویتی گفت: مؤظفین ریاســت استخبارات هلمند دو آدم ربا را که چندی پیش یک پســر ده ســاله را از ولســوالی گرمســیر آن ولایت اختطاف و به گونه‌ی بی رحمانه به شــهادت رســانده بودند، گرفتار کردند.
در خبرنامه آمده اســت افراد گرفتار شده به جرم خویش اعتراف کرده اند.

## ترميم وفعال‌سازى ده‌ها عراده وسايط...

وزارت دفــاع ملی روز گذشــته با نشــر تویتی گفت: شــش تانک ضربتی، ۳۶ هاموی، ۱۱ موتور سیکلت چهــار تایره، ۷ انترنشــنل ، ۱۸ رنجــر، ۳ آمبولانس، ۳ کرینــگ و ۳ فورکلف همراه با چهــل و چهار میل اســلحه از ســوی انجنیران و تیم تخنیکی قول اردوی ۲۰۹ الفتح ترمیم و فعال گردید.

## هرات او کندهار کې لسگونه سرتېري...

هاوان، دو میله او اســپیجنین له مســلکي زده کړو څخه وروســته نن د یو لړ ځانگړو مراسمو په ترڅ کې فارغ شول.
د مســوولینو په خبره، دغه ســرتېري به د ســرحدي کنــډک د لوبدیځ زون سرحداتو د ساتلو لپاره وگومارل شي.
یاد مراســم د نظامي نمایشاتو په ترســره کولو د تصدیق نامو او ډالیو په وېش سره پای ته ورسېدل.
د یو بل خبر له مخې، په کندهار کې د ۲۰۵ البدر قول اردو مســوولین وایي، چې له دغې قول اردو څخه ۵۰ ســرتېري له مســلکي زده کړو وروسته فارغ شول.
د دغــه ولایت د ۲۰۵ البدر قول اردو مطبوعاتي مســوول مولوي نذیر احمد شــکېب وایي، چې دغه ســرتېري د حضرت عبیده رض د درېیمې سرحدي لوا څخه د یوې میاشــتې مســلکي او نظامي زده کړو له ترلاسه کولو وروسته پرون فارغ شول.
د یادونــې وړ ده، چــې مخکې له دې هم له ۲۰۵ البــدر قول اردو څخه گڼ شمېر سرتېري له مسلکي زده کړو وروسته فارغ شوي وو.

## هلمند کې د يوه ښوونځي وداني...

ویجاړ شوې وې.
د مســوولینو په وینا، چــې د بیا رغونې په دې چارو کــې د کړکیو، دروازو او درسي خونو رنگمالي او بیا رغول شامل دي.
مســوولین زیاتوي، چې د دغه ودانۍ د بیارغولو چارې د درېو میاشتو په موده کې بشپړې شوې دي.

## پيام تعامل با افغانستان را به کشورهاى...

مولوی عبدالســلام حنفی در این دیدار گفت: حکومت و ملت افغانســتان در طول تاریخ با ملت جاپان روابط خوب داشــته اســت، وی در کنار اینکه دستآوردهای امارت اسلامی را به بحث گرفت از جاپان خواست تا در معادن افغانستان سرمایه گذاری نماید.
تاکاشی اوکادا سفیر جاپان گفت: پیشرفت‌های خوبی در عرصه‌های امنیت، مبارزه با فساد اداری و مواد مخدر در افغانستان صورت گرفته است که ما آن را گام مهم می‌دانیم.
تاکاشــی اوکادا افزود: «تلاش می‌نماییم تا در نشست کشورهای گروه هفت که در جاپان برگزار می شــود، صدای خود را در زمینهٔ همکاری با افغانستان، تعامل و مساعدت در بخش‌های مختلف، بلند کنیم».
موصوف ابراز امیدواری کرد که امارت اسلامی قبل از دوم ماه می که نشست ۲۰ کشــور کمک کننده در پایتخت قطر برگــزار می‌گردد و آنتونیو گوتریش، سرمنشی ملل متحد نیز در آن اشتراک می‌کند، به خاطر حل بعضی از مسایل که جامعهٔ بین‌المللی آرزوی آن را دارد، پیشــرفت‌های داشــته باشد. معاون اداری ریاســت الوزرا در پاســخ گفت: محدودیت‌ها و وارد کردن فشــارها نمی‌تواند مشــکلات را حل کند و این گونه اقدامات قبل از همه بر مردم عام و بیچاره اثر خواهد داشت.
حنفی گفت: امارت اسلامی معتقد به تفاهم و گفتگو است، خواستار روابط نیک و حســنه با همه کشــورها بر اســاس احترام و تعامل متقابل می‌باشد و تفاهم و گفتگو را تنها راه حل همه مشکلات می داند.
وی همچنــان ابــراز امیــدواری کرد که وضعیــت افغانســتان را باید با دید مثبــت ارزیابــی کرد، زیــرا در اینجا پیشــرفت‌های زیادی صــورت گرفته اســت، جامعــه بین‌المللی از جمله جاپــان باید به کمک‌هــای خود ادامه دهد تا برای افغانان فرصت‌های شــغلی فراهم شــود، برای حل مشــکلات اقتصادی شــان کمک صورت گیرد و همه مسائل قابل بحث از طریق تفاهم حل گردد.

## کابل ښار کې درې لويې پروژې...

د ۲۳۴ میلیــون افغانیو په لگښــت جوړیږي. دریمه پروژه هم د کابل ښــار لومړۍ ناحیې اړوند ســیمه کې د افغانســتان د وچې مېوې د بســته بندۍ او بازارموندنې لپاره د معیاري مرکــز جوړولو پروژه ده چې په ۵۷۳۲ متر مربع ځمکه کې د ۱۵۴ میلیون افغانیو په لگښت جوړېږي.

## د عاليقدر اميرالمؤمنين د فرمان له مخې...

بندیانو د بخښــنې او د مجازاتو د کمولو د فرمان له مخې، د هرات او فراه له زندانونو څخه ۱۶۱ تنه خوشې شول.
د هرات د بندخونې عمومي مدیر مولوي محمد نبي خلیل وایي، چې له دغه بندخونې څخه ۴۷ بندیان آزاد کړي، چې په کې ۷ مېرمنې شاملې دي.
ورتــه مهال د فراه د عمومي بندخونې مســوول ملا لعل محمد ذاکري وایي، چې د دغه بندخونې څخه یې ۱۱۴ بندیان آزاد کړي دي.
د یادونې وړ ده، چې پرون ورځ هم د غور له بندخونې څخه د اختر د رارسېدو په مناسبت ۴۱ بندیان خوشې شوي وو.

## د زکات راټولولو لپاره يو ځانگړى بانکي...

د اســلامي امارت د عشر او زکات د ټولولو په موخه په (د افغانستان بانک) کې (۳۰۰۰۲۰۹۰۰۹۸۳۵) یو بانکي حساب جوړ کړی دی.
پــه خبرپاڼه کې راغلي، چې دا ټول زکاتونه د ۸ شــرعي مواردو لپاره کارول کېږي او مسلمانان کولای شــي، چې د اسلامي امارت له لارې ټولو اړمنو کسانو او کورنیو ته خپلې مرستې ورسوي.

## به مناسبت عيد تدابير امنيتى به گونه‌ى جدى...

گفت که شیخ محم قاسم خالد، در دیدار با قومندان امنیه کابل، نمایندگان استخبارات و قول اردوی مرکزی و رییس ترافیک، خواستار توجه (ویژه) به امنیت شهروندان کابل و حفظ نظم شهری شد.
والی کابل به مســؤولان امنیتی و ترافیک گفته اســت که در ایام عید باید به امنیت هموطنان به ویژه شــهروندان کابل توجه ویژه داشــته باشند و اجاز ندهند نظم شهری مختل شود.

## کابل کې د ۲۳ ميليونه افغانيو په لگښت د يو...

درالامــان پورې د ۶۱۰ متره په اوږدوالي او د ۳۱ مترو په پراخوالي د ســړک د جوړولو چارې پیل شوې.
خبرپاڼــه کې راغلي، چې د ســړک ســربېره په یاده پروژه کــې د پلو لارو، د بایســکیل ځغلولو لیکو او گلدانونو جوړول هم شامل دي، چې چارې به یې د ۲۳ میلیونه افغانیو په لگښت تر راتلوونکو ۷ میاشتو پورې بشپړې شي.
خبرپاڼه زیاتوي، چې د کابل ښاروالۍ د پروژو او پروگرامونو ریاست انجنیران بــه پر وخت د یادې پــروژې له کیفیت او څرنگوالي څخــه فني او تخنیکي څارنه کوي.

## پکتيکا کې د ۴.۵ ميليونو افغانو په ...

نصبول شــامل دي، چــې پر مټ یې ۳۸ کورنیو ته د څښــاک اوبه برابرې شوې دي.
هېــره دې نه وي، چې لــه دې وړاندې په هم دغه ولایت کــې دې ته ورته شبکې گټې اخیستنې ته سپارل شوې وې.

## ۴ ټانکره بې کيفيته گاز بېرته ازبکستان ...

خبرپاڼه کې راغي، چې په دې وروســتیو کې ســتندرډ ملــي ادارې په خورا جدیت د بې کیفیته تېلو د واردولو د مخنیوي لپاره عملي گامونه پورته کړي. یادې ادارې له ټولو سوداگرو څخه غوښتنه کړې، چې هېواد ته با کیفیته سون توکي وارد کړي، کنه نو له ورته قانوني چلند سره به مخ شي.
د یادونې وړ ده، چې څو ورځې وړاندې د لومړي ځل لپاره ۳ ټانکره بې کیفیته هایدرولیک هم د یادې ادارې له لورې بېرته ایران هېواد ته مسترد شوي وو.

## غور کې ۳۵ قلمه تاريخي آثار موندل ...

پرمهال ۳۵ قلمه تاریخي آثار موندل شوي دي.
د مســوولینو په وینا، چې په دغو آثارو کې ۱۵ فلزي ســکې او ۲۰ ټوټې له خټو جوړ شوي لوښي شامل دي.
ســرچینه زیاتوي، دغه آثــار د اطلاعاتو او کلتور ریاســت موزیم ته د یاد ولایــت د اطلاعاتو او کلتور رئیــس مولوي عبدالحي زعیم په شــتون کې وسپارل شول.

## له کابل ښار څخه سلگونه کيلوگرامه بې کيفيته ...

۱۵۰۰ کیلــو گرامه تاریخ تېراو بې کیفیته توکــي راټول او د لمنځه وړلو په موخه ځانگړي ځای ته ولېږدول شول.
د خبرپاڼې د مالوماتو له مخې په یادو توکو کې، شــېدې، ملایي، نوشــابه، چاکلېټ، صابون، شــامپو، بیســکویت، چپس، حشــره وژونکي مواد، د وینځلو مایع او یو شمېر نور شامل دي.
کابل ښاروالۍ همدارنگه له ټولو ښــاریانو څخه غوښتنه کړې، چې د توکو پېرلــو پرمهال د هغو نېټې او کیفیت ته جدي پاملرنه وکړي.

Shariat Daily

# Shariat
**Published by**
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

# شریعت
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰٦٦٦
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸٦۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۷۷٦۷۸۸٤٤۷ / ۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳

Wednesday 19 April 2023 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 162


روغتیاوزارت:

## د ماشومانو د مړینې په اړه د روغتیا سازمان راپور حقیقت نه لري




شریعت: د افغانستان د عامې روغتیا وزارت په هېواد کې د نویو زېږېدلو ماشومانو د مړینې په اړه د روغتیا نړیوال سازمان راپور په کلکه رد کړ. د یاد وزارت ویاند ډاکټر شرافت زمان رسنیو ته په یوه غږیز پیغام کې ویلي چې د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته په افغانستان کې د مور او ماشوم د روغتیا او پالنې لپاره په کافي اندازه کار شوی دی.
ډاکټر شرافت زمان د روغتیا نړیوال سازمان هغه راپور په کلکه رد کړ، چې ګواکې په افغانستان کې هره ورځ ۱۶۷ نوي زېږېدلي ماشومان مړه کېږي. د ده په خبره دا یو بې اساسه راپور دی او له حقیقت څخه لرې دی.د نوموړي په خبره په همدې موخه په هېواد کې نوي روغتیايي مرکزونه فعال او دمګړۍ معیاري خدمتونه وړاندې کوي.
د عامې روغتیا وزارت ویاند له ټولو ادارو څخه جدي غوښتنه کړې، چې د راپورونو په خپرولو کې له پوره دقت څخه کار واخلي او د ناسمو راپورونو په خپرولو سره دې د افغانانو ذهنونه نه مغشوشوي.

د کور او ښار جوړولو وزارت:

## په هېواد کې د ملي مسکن سروې پیلېږي



د کور او ښارجوړولو وزارت مسؤلینو، پرون د دغه وزارت د ۱۴۰۱ مالي کال مهم فعالیتونه، لاسته راوړنې او د روان کال پلانونه له رسنیو سره شریک کړل.
په همدې مناسبت د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو په مرکز کې جوړه شوې غونډې ته، د کور او ښار جوړولو وزارت سرپرست شیخ حمدالله نعماني، د دغه وزارت د مهمو دندو او موخو په اړه معلومات ورکړل او ویې ویل چې د کور او ښار جوړولو وزارت اړوندو ادارو ته ماستر پلانونو او ستراتیژیکي پلانونو برابروي؛ هېوادوالو ته د کور او سرپناه جوړولو په برخه کې زمینه سازي کوي او همدا رنګه د ساختمانونو د جوړولو پر کیفیت څارنه کوي.
دغه راز د کور او ښار ...۵مخ

## د کوچني اختر د رخصتۍ په تړاو د کار او ټولنیزو چارو وزارت خبرتیا!




د کوچني اختر د رخصتۍ او د روژې له میاشتې وروسته د کار مهال وېش په تړاو د کار او ټولنیزو چارو وزارت خبرتیا!
د کار او ټولنیزو چارو وزارت باختر آژانس ته په را لېږل شوي مکتوب کې ویلي، چې د افغانستان اسلامي امارت د ذیصلاح مراجعو په وسیله د شوال المکرم میاشتې په تثبیت سره د اسلامي امارت د ۱۴۴۴ کال د کلیزې پر بنسټ د شوال المکرم له لومړۍ څخه تر دریمې نېټې پورې په ټول هېواد کې رسمي رخصتي ده. ۵مخ

## لوګر کې د ۳۲ ښوونځیو د بیارغونې چارې پیل شوې



په لوګر ولایت کې د تېرې جګړې پر مهال د ۳۲ زیانمن شویو ښوونځیو د ودانیو د بیارغونې چارې پیل شوې دي. دغه ښوونځي د IRC موسسې د ۷۴ زره امریکایي ډالرو په لګښت بېرته رغول کېږي. د لوګر د پوهنې ریاست مسوولین وايي، چې د بیا رغونې په دې چاره کې به د نوموړو ښوونځیو ودانیو ته نوی رنګ ورکول شي او هم به یې ټولې تخریب شوې برخې به یې بېرته ورغول شي. د دغو ښوونځیو د ودانیو په بیا رغونې سره به شاوخوا ۳۲ زره زده کوونکو ته د زده کړې غوره چاپېریال برابر شي.

## خلک د برېښنایي پېژندپاڼو د بېې پر لوړېدو نیوکه کوي



د برېښنایي پېژندپاڼو ځینې غوښتونکي د پېژندپاڼو د بیې پر لوړېدو نیوکه کوي. دوی وايي، د برېښنایي پېژندپاڼو د ترلاسه کولو لپاره باید ۵۰۰ افغانۍ ورکړي چې دمګړۍ دوی یې د ورکولو وس نه لري. د برېښنایي پېژندپاڼو غوښتونکي له حکومت څخه غواړي چې د دغو پېژندپاڼو لګښت کم کړي. له دې مخکې د برېښنایي پېژندپاڼو بیه ۳۰۰ افغانۍ وه.
بل پلو، د احصایې او معلوماتو ملي اداره د برېښنایي... ۵مخ

## سالنګ کې ۴۵ سانتي متره واوره اورېدلې



شریعت: په سالنګ کې ۴۵ سانتي متره واوره اورېدلې، خو لار د ترافیکو پرمخ خلاصه ده.
د ټولګټو چارو وزارت پرون د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره وویل، چې په سالنګونو کې د واورې ورېښت دوام لري او یاده لویه لار د ترافیکو د تګ راتګ پرمخ پرانیستې، چې دا مهال مسافر وړونکي موټر له... ۵مخ

## خدمات مخابراتی به نقاط محروم ولسوالی پسابند غور رسید

شریعت: فعالیت شبکه‌های مخابراتی به نقاط مختلف ولسوالی پساوند غور گسترش یافت.
این در حالی است که باشندگان غور کمتر به شبکه‌های مخابراتی دسترسی داشته اند.
مسوولان در ریاست مخابرات و تکنالوژی معلوماتی می‌گویند:
در تازه ترین اقدام، با نصب آنتن مخابراتی سلام، بخش‌های از ولسوالی پسابند تحت پوشش مخابراتی قرار گرفت' در نظر است آن بخش‌های دیگر از غور که به شبکه‌های مخابراتی دسترسی ندارند، به زودی شامل تحث پوشش شبکه‌های مخابراتی قرار گیرند.

## آغاز روند توزیع کتب جدید برای دانش آموزان در پنجشیر

شریعت: ریاست معارف پنجشیر، برنامهٔ توزیع کتب درسی جدید را برای دانش‌آموزان مکاتب این ولایت آغاز کرد.
مولانا غلام ایشان حماس رئیس معارف پنجشیر می‌گوید: قرار است دو صد و پانزده هزار و ششصد و نود و پنج جلد کتب درسی از صنف اول الی دوازدهم از طرف وزارت معارف به ص۵

## بازداشت ۱۶ تن در پیوند به جرایم مختلف



شریعت: مسوولان امنیتی از بازداشت ۱٦ تن در پیوند به جرایم: سرقت، قاچاق سلاح، روابط نامشروع و آدم ربایی از ولایت‌های کابل، کاپیسا، بغلان و هلمند خبر می‌دهند.
دفتر مطبوعاتی قوماندانی امنیه کابل روز گذشته گفته که پولیس حوزه هشتم قوماندانی امنیه کابل نه تن را در پیوند به سرقت وسایط و دیگر اموال شهروندان، بازداشت ص۵

## هرات او کندهار کې لسګونه سرتېري فارغ شول



شریعت: هرات او کندهار کې له ۲۰۷ الفاروق او ۲۰۵ البدر قول اردوګانو څخه ۹۵ سرتېري فارغ شول.
د هرات امنیتي مسوولین وايي، چې د دغه ولایت د الفاروق قول اردو څخه ۴۵ سرتېري د درنو وسلو له زده کړو فارغ شول.
د دغه ولایت د امنیتي مسوولینو په وینا، چې د ۲۰۷ الفاروق قول اردو د پنځمې سرحدي لوا څخه ۴۵ سرتېري د ډیسي توپ، ۵مخ

## فراه کې ګڼ شمېر وسلې او نشه يي توکي ونیول شول

د فراه امنیتي مسوولین وايي، چې د دغه ولایت د خاکسفید ولسوالۍ د تروریزم پر وړاندې د مبارزې مدیریت منسوبینو ګڼ شمېر وسلې او نشه يي توکي نیولي دي.
د خاک سفېد ولسوالۍ امنیې قوماندان مولوي سید احمد فایز باختر آژانس ته وویل، چې د خاک سفېد ولسوالۍ امنیې قومندانۍ د تروریزم پر وړاندې د مبارزې مدیریت منسوبینو د استخباراتو ریاست له ځواکونو سره په همغږۍ د یادې ولسوالۍ په زرنج سیمه کې د شپنۍ ګزمې پر مهال له څو شکمنو کسانو څخه هغه وسلې، موټر او نشه يي توکي نېولي، چې یادو کسانویې له سیمې څخه د ایستلو نیت درلود. نوموړي زیاته کړه، چې په دغو وسلو او توکو کې یو ویټس موټر، یوه پیکا، یو راکټ، دوه کلاشینکوفه، دوه چهل تیره، دیارلس د راکټ ګولۍ، شاوخوا څلور زره د پیکا مرمۍ او ۲۰ کیلو ګرامه چرس شامل دي.

## هلمند کې د یوه ښوونځي ودانۍ ورغول شوه



شریعت: د هلمند ولایت په ګرشک ولسوالۍ کې د ۷۵۵ زره افغانیو په لګښت د یوه ښووځي ودانۍ تر بیا رغولو وروسته ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.
د یاد ولایت د پوهنې ریاست مسوولین وايي، چې دغه ودانۍ د یونیسف موسسې په مالي ملاتړ د ۷۵۵ زره افغانیو په لګښت بیا ورغول شوه، چې د تېرو جګړو پرمهال یې ځینې برخې یې...۵مخ

## ترمیم وفعال‌سازی ده‌ها عراده وسایط نظامی و مهمات مختلف



شریعت: ده‌ها عراده وسایط نظامی و سلاح‌های مختلف‌النوع در قول اردوی ۲۰۹ الفتح ترمیم شد. ص۵